




عرفان الله « بيدار »
د نشر نېټه : ۱۳جولای ۲۰۱۳ میلادی

# ختيځ ادبي بهير پنځوسيزه ووهله

(لنډه کيسه څنګه ليکل کيږي؟) ختيځ ادبي بهير ملګرو دا اونۍ په همدې اړه بحث وکړ او د هيواد پياوړی ليکوال او ژورناليست محمد نعمان دوست يې د لنډې کيسې د ليکلو په اړه د ادبي درس لپاره بللی و.

بهيروالو خپله ( ۵۰ ) مه غونډه د ۱۳۹۲ کال د چنګاښ مياشتې په ( ۱۴ ) مه ،د جلال اباد ښار د ميدوتيک په انګړ کې وکړه.

دا اونۍ د ناستې مشر صيام الدين پسرلی و، وياند احمد جمال جمال و او د کوربنو په څوکيو محمد نعمان دوست او مصلح الدين قادري ناست وو.

غونډه د مصلح الدين قادري له خوا د قران کريم په څو مبارکو اياتونو شروع شوه، ورپسې بهير والو د تکره ليکوال اروابناد رازمحمد راز روح ته د مغفرت دعا وکړه او د نوموړي مړينه يې يوه ستره ضايع وبلله. د دې ترڅنګ دغونډې ګډونوالو دعرفان الله بيدار د پلار د صحت لپاره هسک دربار ته لاسونه لپه کړل او نوموړي ته يې د روغې ستې غوښتنه وکړه.

ايمل مرِوند د تيرې ناستې ګزارش ولوستو او د اروزنې پيل يې محمود خزان وکړ.

هغه وه ويل : (( په تيره ناسته کې ماهم مقاله ولوستله خو ګزارش ليکونکي په داسې انداز کې يادونه کړې لکه ما چې مقاله له غونډې نه وروسته ويلې وي.))

عرفان الله بيدار وه ويل، که د نوو ځوانانود مقالو يو څه برخه ګزارش کې راخيستل شوې وی ښه به ځکه وی، چې دوی به لاتشويق شوي وی.

ایمل مرِوند د پورته نیوکي په ځواب کي وویل : (( تیره ناسته کي زیات شمیر کسانو مقالي ولوستلي او ما نه شول کولی چي د ټولو په ګزارش کي راخیستنه وکړمه، یوازې هغه چي د یو ګزارشګر په توګه راته مهمي ښکاره شوې راوامي خیستلي او د پاتو نورو مي یوازې نومونه یاد کړل.))

باز محمد عابد ګزارش خوښ کړ، خو په ګزارش کي یې د ځیني اضافو جملو یادونه هم وکړه.

ظاهر عادل هم د مرِوند سره همغږی و، نوموړي وویل ادبي ګزارش باید همداسي ولیکل شي او ګزارش لیکونکی باید دغوندي انځور لندو ټکو کي وړاندي کړي.

د ګزارش تر ارزوني وروسته محمد نعمان دوست د لنډې کیسي په اړه ادبي درس وړاندې کړ او کیسه یې له پیل نه تر پایه پورې ټوله ګډونوالو ته تشریح کړه او د هغوی د پوښتنو ځوابونه یې هم ورکول.

نوموړي د دې ترڅنګ، چي لکچر وړاندې کولو په تخته هم ځیني اړیني کلیمي لیکلی.

دوست لومړی د کیسي په تاریخچه لنډې خبرې وکړې او بیا یې د پخوانیو کیسو(داستان) او اوسنی لنډې کیسي ( داستان کوتاه) په توپیرونو خبرې وکړې.

هغه د کیسي په تاریخچه کي وویل چي په مصرکي کیسي ویل له پخوا دود و، حتی له میلاد نه شاوخوا ۲۰۰۰ کاله وړاندې د مصر یوه فرعون ( خوفو) له کیسو سره دومره شوق درلود چي ځیل زامنو نه به یې د کیسو ویلو غوښتنه کوله،زامنو به یې ورته کیسي را ټولولي او چي کله به د هغه طبع و، ورته ویلی به یې.

په اروپا کي هم کیسي لوستل له ډیر پخوا دود وې، له رنسانس نه وړاندې دور کي هم خلکو کیسو سره علاقه درلوده او د هغه وخت ځیني کیسي راټولي شوي دي.

دوست زیاته کړه په پښتو ژبه کي لومړی لیکوال ارواښاد سید راحت زاخیلی و، چي په لومړي ځل یې ((د کونډې نجلی )) ترسرلیک لاندې کیسه ولیکله او بله کیسه یې د ((شلیدلي پنی )) په نامه لیکلي وه.

دوست کیسه د جوړښت له پلوه هم وڅیړله او د ځینو کیسو بیلګی یې هم یادې کړې. هغه د کیسي د پلاټ په ارزښت هم خبرې وکړې او وه یې ویل چي د قوي پلاټ کیسي چي په سمه بڼه ولیکل شي، تر ډیره په ذهن کي پاتې کیږي او ښه اغیز لري.

هغه د مکالمو په برخه کي وویل چي دا باید د کرکټر له شخصیت سره سمي وي او داسي نه وي چي څوک یې په وینا وال شک وکړي.

له ادبي درس وروسته د کرکټني برخه پیل شوه او عرفان الله بیدار خپل غزل کرکټني ته وړاندې کړ.

چي مطلع یې داسي وه:

که غریب یې که مالدار یې زما یار یې ــ که هر څومره کلانکار یې زما یار یې

محمود خزان مطلع روانه وبلله. ضياالدين همت مل هم د خزان ملاتړ وکړ.

وياند لومړي بيت ته لاړو:

ښه داډه مي دزړګي کورته رادرومه ـــ ته د دغه ځای حقدار يي زما يار يي

نعمان دوست بيت خوښ کړ، خو بازمحمد عابد ورسره ونه منله او زياته يي کړه که بيدار زما وړانديز ومني اوداسي يي کړي لا به ښه شي:

((ته د دغه ځاي تاجدار يي زما يار يي))

خزان ورغبرګه کړه چي بيت که په خپل حال پاتي شي ډير به ښه وي.

ظاهر عادل بيا ويل که کوم ملګری د غزل خوبی او خرابی وايي بايد دليل ورسره ولري، چې ولي يی خوښ کړ او يايي ولي خوښ نه شو؟

د غزل بل بيت داسي و:

چي زما مظلوم ولس درکي ارام وي ـــ که خزان يي که بهار يي زما يار يي

خاوري منت بار ورسره جوړ نه و او ويل يي چي په خزان کي څوک ارام نه وي نو ځکه سم ځای نه دی ياد شوی. خو همت مل بيا ويل، چي شاعر خپله خوشحالي د اولس خوشحالي ګڼي. نومورې د بيلګي په ډول د رحمان بابا دابيت راوړ :

(( لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم ـــ که خزان راباندي راشي که بهار.))

عابد هم بيت ښه وبللو او د کاروان صيب بيت يي څه داسي ولوستو:

(( شاعره اوس نو يو رنځور منی په ما راوله ـــ په نوره ټوله دنياګی لکه بهار تير شه ))

او دريم بيت څه داسي و:

که دغلو سره کېږني په کار مو نه يي ـ که ريښتونی خدمتګار يي زما يار يي

عابد وويل بيت ګونګ دی او په معنی يي شاعر ښه پوهيږي.

څلورم بيت داسي و:

ستا له مخه رب ادا ټول جهان پيدا کړو ـ ته دټول جهان سردار يي زما ياريي

همت مل وويل ،چي بيت يو څه تکراري دی، خو دلته پرځاي راغلی او دغزل خوند يي دوه چنده کړی. عادل وويل، چي غزل ته همدي ښکلا وربښلي، چي هر بيت يي جلا جلا معنی لري .

ویاند پنځم بیت ته لاړو :

تا د شعر ګلان د زړه په وینو لوی کړل ــ ته ددې ګلبڼ مالیار یې زما یار یې

عابد وویل، چې بیت ډیر ښکلی دی، خو که بیدار په کې خپل نوم ځای کړی وی لابه ښه راغلی وی.

ویاند مقطع ولوسته چې داسې وه:

وا بیداره زه به ولې منکریږم ــ زما یار یې زمایار یې زما یاریې

مرونډ وویل چې بیدار مقطع کې خواري نه ده کړې او له سره یې تیره کړې.

ورپسې د شعر څښتن بیداردریځ ته وبلل شو. نوموړی له بهیروالو مننه وکړه او د ګډونوالو لارښوونې یې اغیزناکې وبللې.

تر کرکتنې ورسته یوه ازاده مشاعره وشوه چې لسګونه شاعرانو په کې خپل شعرونه وویل .

د مشاعرې وروسته صیام الدین پسرلي ته بلنه ورکړل شوه چې دغونډې ارزونه وکړي. پسرلي غونډه ښه وارزوله .

راتلونکې اونۍ ته پریکړه وشوه، چې ایمل مرونډ به نثرې لیکنه کره کتنې ته وړاندې کوي.

غونډه غرمه ناوخته پاي ته ورسیده .

رپورټر: عرفان الله « بیدار »

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org